په يهودو او نصاراو دې د الله تعالى لعنت وي، هغوى د خپلو پيغمبرانو له قبرونو جوماتونه جوړل کړل

د مؤمنانو له مور عايشې رضي الله عنها څخه روايت دى وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې ناروغۍ په حالت کې چې تر روغ نه شو (يعني په هماغه ناروغۍ کې وفات شو)، وفرمايل: «په يهودو او نصاراو دې د الله تعالى لعنت وي، هغوى د خپلو پيغمبرانو له قبرونو جوماتونه جوړل کړل» عايشه رضي الله عنها وايي: که دا خبره نه واى (يعني دا منع او خبرداری)، نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم قبر به ښکاره شوى واى، خو دا وېره پېدا شوه چې جومات ترې جوړ نه شي.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

عايشه رضي الله عنها، د مؤمنانو مور، روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلې وروستۍ سختې ناروغۍ په حالت کې، چې پکې وفات شو، وفرمايل: «الله دې يهود او نصارا لعنت کړي او له خپل رحمته دې وشړي؛ ځکه هغوى د خپلو پيغمبرانو قبرونه جوماتونه وګرځول» — يعني يا يې پر قبرونو مسجدونه جوړول، يا يې د قبرونو پر لور لمونځ کاوه، يا يې د قبرونو ترڅنګ لمونځ کاوه. بيا عايشې رضي الله عنها وويل: که د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لورې دا منع او خبرداری نه و راغلى، او صحابه له دې نه وو وېرېدلي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له قبر سره به هماغسې چلند وشي لکه څنګه چې يهودو او نصاراوو د خپلو پيغمبرانو له قبرونو سره کړى، نو د هغه قبر به بارز او ښکاره کړاى شوى و.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5379

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee